# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم وبر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|



محمد ایاز نوري
۲۰۰۸-۱۲-۲۶


## د ۱۳۵۸ هجري لمریز کال د مرغومي شپږمه
## په ګران افغانستان کې،
## یوه لویه کرغېړنه او له نفرته ډکه نیټه!!

د ګران هیواد افغانستان په نژدې تاریخ کې د مرغومي شپږمه یوه له هغو تورو ورځو څخه ده چي زما دغه ضعیف قلم د هغې توصیف ته عاجزي کوي. د ۱۳۵۸ هجري لمریز کال د مرغومي د میاشتی شپږمه نیټه وه چی د پخواني د افغانانو په لاس د رانسکور شوي ستر هیواد یعنی شوروي اتحاد سور لښکر، د یو لکو خلویښتو زرو نظامیانو په شمیر تر غاښو په مدرنو وسلو سمبال په افغانستان ورننوت. دا د شوروي اتحاد د هغه وخت د پاچا!! لیونید ایلیچ برژنف او ور مربوطي دارې له خوا یې داسی یو پټ او غیر قانوني یرغل وه چی نه د افغانستان د هغه وخت دیکتاتور حفیظ الله (امین)، نه د ملګرو ملتونو سازمان او حتی د شوروي دولت ټول ځګ پوړي اراکین او ګوسپندي ساتل شوي خلک پرې خبر ول...؟! د دی ډیر بد اخلاقه او د ګاونډیتوب د اصولو څخه بهر یرغل کی، روسي سوسیال امپریالیست کمونیستانو لومړی د افغانستان د هغه وخت حکومتی مشر امین وواژه او په تعقیب یې د خپلو ټانکونو په سر سپور یو ستر افغان ملی خاین او له نفرته ډکه سیاسی څیره، ببرک کارمل زمونږ د هیواد په دولتی قدرت ور نصب کړ. د کارمل سره یو شمیر نورې تورې او لعنتي څېرې لکه سلطان علي کشتمند، صالح محمد زیری، سید محمد ګلاب زوی، محمود بریالی، نور احمد نور، جګړن محمد رفیع، ډګروال عبدالقادر، محمد اسلم وطنجار، اناهیتا راتب زاده، ډاکټر نجیب الله، شیر جان مزدور یار او نور، نور ملی خاینان هم د شورویانو له خوا په مهمو حکومتی مقامونو کی ځای پرځای شول. ډیر ځیرونکي د شوروی پوځ پر ځای هغه ته (سور لښکر) وایي او حقیقت هم دادی چي که څه هم هغه دم شوروی هیواد له پنځلسو تش په نامه جمهوریتونو څخه تکمیل شوی وه، لیکن په عملی میدان کي ټوله رهبري د ماسکو د کرملین د مانی څخه چي مشري یې معیوب، مریض او لیونتوب ته رسیدلي لیونید برژنف کوله، تر سره کیده. برژنف او هغه ته نژدې توطئه ګره ډله لکه ګرومیکو، اوستینوف، یوري اندروپوف او نور، ډوبه په غرور کی چی د پرولتاري انترناسیونالیزم؟! د شعار څخه په ناوړې پکاروني یې اصلاً د ټولې نړی د نیولو او په اصطلاح کمونیست کولو خوبونه په بسترو کی لیدل. خو علمي او واقعی ارخ ته یې یا عقل نه ورسیده او یا هم د عقدو په درلودلو یې پام ورته نه کاوه. شوروي وګړي په داسي روحیه روزل کیدل چي ګڼي دوی په دې نړی کي د ملتونو تر منځ عالي دي، بناء دوی استحقاق لري چي باقي ملتونه رهبري کړي او دا حق تل باید د دوی سره محفوظ وي. شورویانو د هیواد بهر نړی او هیوادو ته او په تیره هغه هیوادو ته چي د خصوصي اقتصاد په پرنسیپ یې ژوند کاوه، د شک، تیتوالي او دښمن په سترګه کتل.

د روسانو د یرغل پر محال په افغانستان کی د حفیظ الله امین وینی بهوونکی حکومت په اقتدار کی وه. امین فقط دری میاشتی پخوا د امین په خپل اعتراف، خپل (لوی استاذ) نورمحمد تره کی په فزیکی ډول وژلی او د قدرت په مقام ناست وه. حفیظ الله امین له یوې خوا د خپل خلقي ګوند په کورني جنجال کي لاس پښي وهل او له بلي خوا هغه ملي وسله وال مقاومت چي افغان ولس د خپلي ورته ډېرې سپڅلی اسلامی عقیدې پر بنسټ یې د خلقي ـ کمونیستي رژیم په مقابل کي پیل کړی وه او دریم عامل د امین د سر سخت سیال ببرک کارمل موجودیت په ماسکو کی د سیاسی

ریزرف په توګه، دی سخت وارخطا کړی وه. شوروي کمونیستانو خپل پوځي یرغل ظاهراً د امین د ظالم حاکمیت څخه د افغانستان د خلکو د ژغورولو پر بناء توجیه کاوه، پداسي حال کی چی د پردي تر شا هیواد پلورونکی ببرک کارمل او د هغه د پرچم ډلي ته يي د افغانستان د دولت سپارل او ځان تودو اوبو ته رسول لا له وخته پلان کړي ول. هغه څه چی هر وطنپال او آزادی پال افغان يي پوښتي او ډیر پرې دردیږي، د روسانو له خوا زمونږ د هیواد پوځي لاندي کول، په هیڅ ډول قانوني، انساني، اخلاقي او د ګاونډیتوب پر بنسټ یو روا عمل نه وه. که څه هم د هیواد د نني ناورین اصلي ریښه له هغه شیبي نه پیل کیږي چی د اعلیحضرت مرحوم امان الله خان ملی دولت د انګریزانو او د افغاني ملي خاینانو په ذریعه سقوط وکړ. او په دي بهیر کی د سقو زوی غل حبیب الله، نادر خان، ظاهر شاه او داوود خان هم ځان د ملت په محکمه کی نشي بري کولای، خو زه د افغانستان د نني غمیزي نژدي بنسټیز عامل، هم دغه د روسیي سوسیال امپریالیستي یرغل بولم. زه په دی باور یم که روسانو دا کارملي ـ پرچمي کرغیړنه مداخله نه وای کړي، تر کومه ځایه چی زه په هغه وخت کی (۱۹۷۸) م د هیواد د سیاسی حالاتو ناظر وم، د امین د رذیل حکومت سره د افغانستان راپاریدلي مسلمان ولس ژر یا ورو حساب کوونکی وه، نو بیا افغانان له حریص روس څخه پوښتي چی تاسو ولی زمونږ پر ملی حاکمیت وسله وال یرغل تر سره کړ...؟! همدا د وګ سترګي او کم عقله برژنفي یرغل پایله وه، چی زمونږ بد نیته او په مورچل کی تیار ناست ګاونډي هیوادو پاکستان، ایران او چین ته یی بنه د اشغال او اسلام ته د خطر بهانه په لاس ورکړه، چی زمونږ په هیواد کی سیاسی مداخلی پیل کړي.

**اوس پس له پوره نه ویشتو کلو چی له هغه روسي یرغل څخه تیریږي، افغانان په اصولی او قانوني ډول د اوسنۍ فدراتیفي روسیی څخه په نړیواله محکمه کی د جګړې تاوان غواړي، او د جګړې د تاوان په څنګ کی اوسني روسي رهبرانو ته ښایي چی د افغانستان د ډیر خوږ شوي ملت څخه رسمي بخښنه هم وغواړي!!**

نن پس د روسی اشغال څخه، زمونږ هیواد بیا په ۲۰۰۱م کال کی د امریکایی او انګریزي امپریالیستانو له خوا په ماهرانه ډول د (ترور) سره د مبارزې تر عنوان لاندي نیول شوی او مونږ افغانان استقلال او سیاسی خپلواکي نلرو. زما پیغام دي یرغلګرو دا دی چي تاسو باید د افغانستان تاریخ یو وار بیا په غور سره وګوری. د افغان په بچی کی سیوا د یوي لړی فیصدي هیواد پلورونکو خاینانو، د آزادي احساس سخت تود دی، تاسو په زور کلي نشی کولای. تاسو غربي امپریالیستان د افغانانو ډیر پوروړي یاست. تاسو اخلاقي او وجداني دنده لرئ چي افغانانو سره د یو واقعا ملي دولت په ایجاد کي صادقانه مرسته وکړی، نه دا اوسنی داړه مار حکومت چی تاسو یی حامیان یاست. تاسو سخت په غلطه تللي یاست!! که تاسو په دا تیرو اوه کالونو کی په خپلو کړنو او نیت کی ربنتیني وای، نن به افغانستان کی نه جګړه وای او نه داسی لوږه او انسان وژنه....؟!. په پای کی وایم:

# تل او ژوندی دی وي افغانستان

## مړه او ناکام دي د افغان ملت رنګارنګ دشمنان

**************

د غدر او خیانت څیری

تره کی ، امین ، کارمل او نجیب






